# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے

# عیسی او زکای



لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Janie Forest
Alastair Paterson

خوښونکے: Ruth Klassen

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

©2024 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرخولے نۀ شئ.



یوه ورځ عیسی د
یریحو نه تېرېدو. دا
ښار یشوع ډېره
موده مخکښې تباه
کړے وو. اوس دا
ښار بیا جوړ شوے
وو او ګڼ شمېر خلق
په کښې اوسېدل. په
هغوئ کښې زکاۍ
نومې یو سړے وو.



کېدے شی چې په یریحو زکایٛ د خلقو ډېر نۀ وو خوښ. ځکه چې هغۀ به د هغوئ نه محصول اخستلو. زکایٛ به څۀ پیسې حکومت له ورکولې او ډېر به یې ځان ته پرېښودلې.

محصول اخستل زکاۍ ډېر مالداره کړی. د هغهٔ کور په ښار کښې د ټولو نه لوئ او ښکلے وو.



خو د هغهٔ قد ټپر
زیات وړوکے وو، د
مال دولت ورسره
هیڅ کمے نهٔ وو، خو
د قد کمے يې وو.
زکایٰ لکه د نورو
خلقو په شان په قد
کښې دنګ نهٔ وو.





کله چې زکایٔ ته دا پته ولګی چې عیسی مسیح په یریحو
کښې دے، نو هغه محصول اخستلو والا غوښتل چې هغه
سړے ووینی ځوک چې د خدایٔ پاک د زویٔ کېدو دعویٰ خو
هلته ډېر زیاته ګڼه وه... یعنې د اوچت قد خلقو ګڼه وه.



زکاۍ ته یو خیال راغلو! هغهٔ
ته دا خیال راغلو کهٔ چرې زهٔ
د دې ګڼې نه ووځم او وړاندې
یوې ټیټې ونې ته وخېژم نو
عیسی مسیح به ولیدلے شم.



زکای یوې ونې ته وختلو، او په هغه ونه
کښې یې داسې ځای پیدا کړو چې ښه په آرام سره
په کښې کېښناستے شی او
هغه هلته کښېناستلو او د
عیسی مسیح انتظار یې کولو.
هغۀ سوچ کولو چې زۀ به یو
داسې کار وکړم چې د
هغۀ لیدو نه بغېر به
زۀ هغه ووینم.

عیسی مسیح د هغهٔ ونې لاندې ولاړ
وو. نو عیسی مسیح زکای ته
وکتل او آواز یې ورته وکړو
زکای لاندې راکوز شه.
د هغه وړوکی قد محصول
اخستلو والا په خپلو
غوږونو باندې
یقین نهٔ راتلو.





کۀ زکای په دې باندې حېران
شوے وی چې عیسی مسیح
هغۀ له آواز ورکړو، نو هغه به
نور هم زیات حېران شوے وی
چې کله عیسی مسیح هغۀ ته
ووئیل، نن، به زۀ ستا په کور
کښې مېلمۀ کیږم. زکای دومره
په تېزئ سره لاندې راکوزشو
چې غورزېدو ته قابو وو.

زکایَ خوشحاله وو چې عیسی مسیح به د
هغهٔ کور ته راځی. خو د خلقو دا خبره
خوښه نهٔ شوه، هغوئ دا شکایت کولو چې
عیسی مسیح له نهٔ دی په کار
چې هغه د زکایَ په شان
ګناه ګار کور ته
لاړ شی.





عیسی مسیح زکایَ له
یو نوے ژوند ورکوی.
زکایَ ووئیل، چې
مالکه، زهٔ خپل نیم
مال غریبانانو له
ورکوم. او کهٔ چرې
ما د چا نه په دوکه
څهٔ اخستی وی نو زهٔ
به هغوئ له یو په
څلور واپس ورکړم.

عیسی مسیح د زکای په نوی
ژوند باندې خوشحاله وو.
هغهٔ به هغه خلقو سره مینه
کوله چا چې به د ګناهونو
نه توبه ویستله او د
صحیح کارونه به یې
کول. عیسی مسیح وائی
چې ابن آدم د روکو شوو
د پیدا کولو او بچ کولو
د پاره راغلے دے. په دغه
ورځ په یریحو کښې عیسی
مسیح زکائی ومندلو.



# عيسی او زکای

دَ خدایٔ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قيصئ

شته دے

لوقا ۱۹

"ستا دَ خبرو تشريح نُور بخښی ."
زبور 130:119

ختم شو

دا قیصۍ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر غلط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې. د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولۍ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲